مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالعزیز نایبي

۲۰۲۲/۱۲/۰۵

یووزرې بوډۍ

هفته ده، ساعت د شپې دوه نیمې بجې دي، اېله شوکاري خلاصه شوه. سږ ژمی وختي پېل شوی، له ډېرو سړو مې ژامې رېږدي. د موټر له ښېښو مې یخ وتوږه؛ لګولی مې دی، جلب ته ناست یم خو ماشین تود شي. دننه په ښېښو ناست تې ورو، ورو په ورکېدو دی. اوس نو لار په اسانۍ لیدلی شم، کور ته روان یم. مزل لنډ و، را ورسېدم. د بلاک لویه دروازه مې پرانېسته، د «لېفټ» تنۍ مې کېښکوده، درېم پوړ کې ترې ووتم. دهلیز کې مړ څراغ اتومات بل شو، زموږ د ګاونډۍ دروازه خلاصه وه، خو ګامه مخ ته ولاړم، کاته مې زړه بوډۍ په «وېلچیر» ناسته ترې، ترې راګوري.

سلام مې واچاوه، ومې پوښتله: خیریت خو ده؟

وېل لږ وړاندې راشه!

خو قدمه ور وړاندې شوم، ها! د رنو متیازو توند بوی ان وره ته راته، لږ ور نېږدې شوم، بیا مې وپوښتله: څه دې ویل؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دهلېز کې يې يوې کڅوړې ته ګوته ونيوه، ويې پوښتلم: دا د چا ده؟

ما وويل: نه پوهېږم! تا ته نه ده معلومه؟

وېل نه! بيا يې رنې، رنې راوکتل، هېڅ په هېڅه يې له ما مننه وکړه. غوښتل مې دروازه ور پورې کړم، وېل پرانيستې ښه ده، شپه پخير!

ما هم ورته ښه شپه وغوښته او کور ته راغلم. د خوب کالي مې واغوستل، په کټ کې اوږد وغځېدم. د بوډۍ د رنو سترګو حيران کاته خوب ته نه پرېښودم. همدا دوې ورځې وړاندې يې د ژوند ملګرې په ابدي سفر کوچېدلې و، هغه پوره غمجنه وه!

پرون يې راته ويل: «يوهان» يې د روغتون په سړه خونه کې ساتلې ده. د هغې ويرجن اسوېلي او ژړغونې غږ را ياد شو چې ساه نېولې راته لګيا وه:

اولادونه سر ګرولو ته نه دي اوزګار، خو کورونه يې ودان را روان دي چې پلار خښ کړي؛ اخر سيال او شريک لرو! بيا يې مخ له ما واړاوه، پاس هوا کې يو نامعلوم ټکي ته ځېر شوه او ځان سره يې ويل: ځويکی او لور به مې ځنګه ښکاري، دا څو کاله مې نه دي ليدلي.

۴/۱۲/۲۰۲۲
ستاکلهم – سويدن
عبدالعزيز نايبي

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ